# Female writers of Pashtu literature in District Swabi

# د صوابی د ښځینه لیکوالو تعارفي جائزه

Dr. Sher Zaman Seemab[1]
Paghunda Mukhtiar[2]

## ABSTRACT

*In this paper an introductory attempt has been made to the female writers of thee Swabi District. Swabi is a very famous and well-known area of the Khyber Pakhtunkhwa province, which is administratively known as Swabi District. This region has produced such great people in every field of the life, who are currently performing important services in all the institutions of the country. In the field of poetry and literature, famous writers and poets have been born here. Along with poetry, they have done important works in the field of literary prose, especially, significant works have been done in the field of drama, novel and short story. And hundreds of books and other literary works have been published here. Along with the male writers in this area, a large number of female writers have also done significant services for their language and literature. their books and other literary works have been published in all genres of literature.*

په خیبر پښتونخوا کښې د صوابۍ ضلع په هغه ضلعو کښې شکاره مقام لري کومې ضلعې چې خپل خصوصي شهرت لري هغه که د تعلیم مېدان وي ، د لوبو یا نورې داسې د شهرت حوالې وي نو صوابۍ دې لړ کښې خپله ځانګړې پېژندګلو لري ـ ولې په دې ټولو حوالو کښې چې کومه لویه پېژندګلو د صوابۍ کېږي هغه د تاریخ په پاڼو کښې په دې علاقه د راجه جے پال او محمود غزنوي او انندپال هغه جنګونه دي چې د هندوستان په تاریخ کښې ئې لوے بدلون راوستے دے ـ د علم و ادب په لړ کښې چې د پانیني غوندې د شهرهٔ افاق ذکر کېږي نو د صوابۍ د وړوکي لاهور تذکره کېږي او داسې د ادبیاتو په لړ کښې هم تر دې دمه په دې خاوره نوموړي لیکوال زیږېدلي دي او د علم او ادب په مېدان کښې ئې د قدر وړ کار کړے دے ـ

دا وخت چې د نارینه لیکوالو شمېره زیاته ده او د پښتو ادبیاتو په مېدان کښې د ځلنده مقام حېثیت لري ـ په دې سیمه زنانه لیکوالې هم موجود دي چې د ادب په

[1] Assistant Professor, Pashtu Academy, University of Peshawar
[2] PhD scholar, Pasht Academy, University of Peshawar

مېدان کښې خپله برخه کار ترسره کړے دے او يا لګيا دي د خپلې ژبې او ادب خدمت کوي ـ
د زنانه ليکوالو په دغه ګلدسته کښې چې کومې ليکوالې د خپل فکر و فن خوشبوګانې خوروي د هغوي د کار ، زيار او ژوند په حقله پېژندګلو په دې ډول ده ـ

(۱) اقبال بېګم :-
د پښتو ژبې دا ليکواله چې په ادبي دنيا کښې د اقبال بېګم په نوم پېژندګلو لري ـ د صوابۍ ضلعې په سليم خان کښې د محمد يوسف خان کره په ړومبي اپرېل ۱۹۰۴ء کښې زېږېدلې ده[1] ـ
اولنے تعليم ئې د خپل کلي سليم خان کښې حاصل کړو ـ لسم جماعت نه پس د پېښور ښار فرنټئير ګرلز کالج نه ايف ـ ايس ـ سي امتحان پاس کولو نه پس ئې په خېبر مېډيکل کالج کښې داخله واخسته ـ شاه جهان صېب د اقبال بېګم په حواله ليکي :
’’ اقبال بېګم نظم او نثر دواړه ليکي ـ د ليک انداز ئې ډېر ساده او روان دے ـ د اقبال بېګم په اشعارو کښې د شاعرۍ ټولې خوبۍ ليدے شي ـ بلند تخيلات ، لوړ تصورات او ژور تفکرات ددې شاعرۍ خاصه ده ـ د ليک نمونه ئې د ’’سپوږمۍ سره وهه راخېژه‘‘ او غزل دادے ـ

چې لاندې شوله برخه نو انسان نهٔ پوهېدو
علاج باندې د خپل مرض لقمان نهٔ پوهېدو
چې ورځ او شپه سجدې به ئې کولې پاک الله ته
په يو سجده کولو بيا شېطان نهٔ پوهېدو
اقبال دا لا څنګه لېونتوب دے چې تر اوسه
په خوي خصلت د خپل خوارهٔ جانان نهٔ پوهېدو[2]

(۲) پلوشه یوسفزی :-
د صوابۍ د خاورې دا شاعره چې د خپل فکر پلوشې ئې د پردي وطن نه هم خورې کړې دي او په ژبه کښې ئې د پښتو شاعرۍ خدمت کړے دے ـ پښتو ژبې له ئې د ’’دردونه ټکورونه‘‘ شعري مجموعه ورکړې ده ـ د دې محترمې شاعري د عشق و محبت نه علاوه د خپل وطن او قام رنګونه هم لري ـ اګرچې د ژوند ډېره برخه ئې په مسافرۍ کښې تېره شوې ده ولې د خپلې ژبې ثقافت ، تاريخ او په خصوصي توګه د خپلې پښتنې علاقې صوابۍ ذکر ئې په شاعرۍ

کښې موجود دے ـ د داسې قامي فکر لرونکي شاعرانې پکار ده چې ونازولې شي ـ په دې چې يو طرف ته د زنانه ليکوالو کمي هم محسوسېږي او بل طرفته پښتو زنانه ؤ ته د پښتنو زنانه ؤ په ژبه د قامي فکر او معاشرتي اصلاح هم ضرورت دے ـ د پلوشه يوسفزۍ د کلام نمونه دلته وړاندې کولے شي ـ د پلوشه يوسفزۍ په کتاب ’’دردونه ټکورونه ‘‘ باندې نامتو ليکوالې پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين خپل خيالات څرګند کړي دي ـ

’’ محترمه پلوشه يوسفزۍ زما ډېر ې مودې ملګرې ده ـ زما د بې حده زياتو مصروفياتو باوجود د ژوند په تېزه منډه کښې هغه زما سره په ډېر صبر، حوصله او مينه سفر کوي ـ دردونه ټکورونه که څۀ هم د بي بي د خپلو جذباتو اظهار دے او په شعر کښې د قام د لحاظه هم او د ساخت په لحاظ هم اولسي او کلاسيکي انداز لري ـ مينه او هجر د بنده نه انسان جوړوي ـ هغه د ډېرو خلقو د ژوند د درد او اذيت احساس ژوندے کوي چې په دغسې اورونو سوځېدلې وي ـ خيال که د شعر د ساخت په مات ګډ حالت کښې پېش کړے شي هم ښۀ دے ـ شعر هغه ښۀ دے چې په اسانه ساده او روانه ژبه کښې په مطلب پوره شي ـ د بي بي شاعري د حقيقت او د روماني ژوند څۀ رنګين عکسونه ښائي[3]ـ‘‘

پلوشه يو ښۀ او ډېره خوندناکه روماني شاعري هم کړې ده چې د محبوب په مينه کښې پروت لت پت شاعرانه انداز لوستونکو ته ډېر خوند ورکوي ـ

زلفې به دې پښو کښې زولنې کړم
زۀ که لېونۍ يم ، تا به لېونے کړم
که سروټکې ګرځوم په دواړو رخسارونو
خو دا خبره واوره ، تا به لېونے کړم
که د وخت واګې زما په لاس کښې راغلې
پروني او سباني به نننې کړم
ګرانه پلوشې ته په تيارۀ کښې زندګي ده
تۀ به هم د ځان سره ستوري ځلنې کړم[4]

په شاعرۍ کښې د نظم ، سندره ، ټپه نه علاوه پلوشه بي بي مصرعې هم ډېر په ښکلي او جامع انداز کښې وئيلې دي

ـ یو څو مصرعې د نمونې په ډول پېش کوو ـ

زۀ به ئې په غاړه ګرځومه
ماله هار راوړه ښۀ مزېدار راوړه د اندر شهر

د اندر شعر بازار ته لاړ شه
او په زرګر لاي مې وايه سلامونه

د جوهري د ګوتو ځار شم
څۀ په هنر په مېځکي کښې غمي ږدينه

چارګل په پوزه مې مزه کړي
چې مې لالي د اندر شعر راوړے دينه[5]

(۳) ډاکټر بشرٰی خاتون :-

د صوابی په سيمه کښې چې کومې زنانه ليکوالې د قلم په قافله کښې روانې دي ـ دغه محترمې يوازې د تخليقي ادب په حواله خدمت نه کوي بلکې د ژبې او ادب په لړ کښې خپل تحقيقي کاوشونه هم مخ په وړاندې بوځي چې په دې کښې محترمه ډاکټر بشرٰی خاتون د صوابی په مشهور کلي نوي کلي کښې د غلام سرور کره په ۱۹۷٦ء کښې زېږېدلې ده ـ د لسم جماعت سبق ئې په خپل کلي کښې وئيلے دے ـ دولسم ئې د نثار شهيد کالج رسالپور او څوارلسم ئې د فرنټئير کالج پېښور نه کړے دے ـ په پرائيوېټ توګه ئې ايم اے انګلش او ايم اے پښتو کښې هم سندونه حاصل کړي دي ـ ولې د پښتو سره ئې د بې کچه مينې په سبب په پښتو ادبياتو کښې د صوابی په تاريخ او ثقافت د پي ايچ ډي سند حاصل کړے دے چې دا وخت د پښتو اکېډيمي کښې د Assistant Professer په عهده خپلې ذمه وارۍ ترسره کوي ـ د خاوند نوم ئې اکرام دے ـ د بشرٰی خاتون دا وخت د تحقيق په مېدا کښې څلور کتابونه زمونږ مخې ته دي ـ

1. د صوابی تاريخ
2. د صوابی د ثقافت هنداره
3. ژبپوهنه
4. پانيني

ډاکټر بشرٰی خاتون د چاپ کتابونو نه علاوه ناچاپ ليک هم موجود دے چې د خپلو ذاتي مصروفياتو له کبله داسې پراتۀ دي ـ

’’ ډاکټر بشرٰی خاتون د وېنا مطابق هغې شاعري هم کړې ده او افسانې ئې هم ليکلې دي

۔ د هغې د لیک معیار Original واقعات ، دود دستور وغېره دي ۔ هغې چې کوم احساسات په خپل چاپېرچل کښې محسوس کړي دي هغه ئې د افسانو په شکل کښې لیکلي دي ۔ د هغې ناچاپه افسانې دادي ۔ ''سپېرۀ سړے ، د خورکۍ وادۀ ، وراثت ، مهر'' وغېره ۔ هغې سفرنامې هم لیکلي دي هغه دادي ۔ '' د چترال سفرنامه ، د عمرې سفرنامه ۔''[6]

طاهر بخاري صېب لیکي :-

'' ماته دا یو نفسی الامري توارد ښکاري چې فردوسي شاهنامه اولیکه او ز مونږ سیالې او عزتمندې ډاکټر بشرٰی خاتون ''صوابی نامه'' اولیکله ۔ خو د فردوسي لاس لنډ وۀ تر الغامه او اکرامه اونۀ رسېده ۔ لیکن د سیالې یوسفزی لاس اوږد وۀ او الحمد لله د پې اېچ ډي غوندې معززه ډګري ئې ترلاسه کړه ۔''[7]

ژبه د انسان د شخصیت عکاسي کوي او دا خوږوالے د ډاکټر بشرٰی خاتون د لیک په انداز کښې ډېر په ښکاره ډول ښکاري ۔ طاهر بخاري هم ددې خبرې ستائنه ډېر ښۀ ښکلو الفاظو کښې کړې ده ۔

'' غرض دا چې سیالې یوسفزی سکالرې په ډېر محنت او کړاؤ سره یو مستند تاریخي او تحقیقي کتاب لیکلے دے ۔ حقه دا ده چې ګرانې مصنفې د صوابی د کلو او مبالغه به نۀ وي چې چم په چم حالات او واقعات تحقیق او تدقیق وړاندې کړي دي ۔ یوه بله قابل قدر خبره دا ده چې ژبه ئې صفا ده ۔ ټول تحریر ئې په ټېټ یوسفزی لهجه او محاوره مشتمل دے ۔ او د لوستو په وخت داسې لګي لکه چې لوستونکے د قدیمه او جدیده تاریخه ذاتي طور تېرېږي ۔ او دا کمال دے ۔''[8]

ما پخپله هم د ''صوابی تاریخ'' کتاب لوستلے دے ۔ د هغې لوست ما له ډېر خوند راکوي او د اعلٰی ظرف لیک نمونه راته لګي ۔ پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین د ډاکټر بشرٰی خاتون ډېره ستائنه کړې ده هغه لیکي :

'' لعل په ایرو کښې لعل وي او نمر په ګوته نه پټېږي ۔ زۀ په دې محاورو ضرور سوچ کوم ځکه چې زما د ژوند په تجربه کښې ما هغه خلق خپل مقام ته رسیدلي اولیدل چا چې په خلوص او مینه خپل کار کړے دے چا چې د محنت لاره خپله کړې ده د خپل محنت او تجربې په بنیاد د ډېرو خاردارو تارونو نه راتېر شوي دي او د هغه ګرانې لارې د کړلیچونو نه خبر دي ۔

ولې بیا ئې هم خپل سفر په ډېره کامیابۍ سرته رسولے دے ـ''9

ډاکټر سلمٰی شاهین یو بل ځاے کښې د شعرونو په انداز ډاکټر بشرٰی خاتون ستائیلې ده چې محنت کوونکي چرې هم ناکامه نۀ شي کېدے ـ

'' چې دا زیرکه او فطرتاً محققه دې الله پاک اکیډیمي ته ضرور راولي او په دې یقین لرم چې په معاشره کښې داسې بینا نظر لرونکے یو سړے یا ښځه هم پېدا شي نو د ډېرو سوؤنو خلقو د ناهلۍ کمے په یواځې ځان پوره کړي ـ رحمان بابا څۀ ښۀ وائي :-

ننګیالي تربرونه ښۀ دي او کۀ نۀ وي
ننګیالی ترلـه هم ښۀ ده تر تربـوره

د خپل کار او مشن سره مینه لرونکي داسې خلق په ګرانه پېدا کېږي ـ لکه اقبال چې وائي :-

ہزاروں سال نرگس اپنی بے نوری پہ روتی ہے
بڑی مشکل سے ہوتا ہے چمن میں دیدہ ور پیدا"10

د ډاکټر بشرٰی خاتون بل چاپ کتاب '' د صوابۍ ثقافت هنداره'' د لوستو نه پس اباسین یوسفزے هم خپله رائې ډېر په ښکلو الفاظو کښې رامخکښې کړې ده ـ

'' صوابۍ د سیمې بلکې د ټولې یوسفزوالې علاقې د ثقافت او فرهنګ فراخه مطالعه شوې ده ـ د ټولنیز ژوند،رسمونو رواجونو، معاشي نظام ، مادي ثقافت ، فـن ، ادب او روایتي لوبو بشپړه عکاسي شوې ده ـ د رشتو تړون ، دود دستور ، غم ښادۍ ، د ښځو او سړو تر مېنځه دکارونو وېش ، معاشرتي اداري ، طبَقاتي تقسیمونه ، عقیدې ، توهمات ، ټوټکې موټکې ، کوډې منترې ، ساختونه تعویذونه ، دم دُرهې ، کرکیله، اشر غوبل ، ژرنده مېچن ، کارکسب ، ګټه وټه ، لوښي ، کودي ، خوراک څښاک ، جامه پېزار او دغسې نور ډېر څۀ موضوعات دي ـ د اولسي او جدید ادب ، روماني قیصو ، ټنګ ټکور ، د روایتي لوبو او د پښتو د مختلفو مقامي لهجو په حقله ډېر عالمانه موضوعات هم په بریالیتوب څېړلي شوي دي ـ عن تر دې چې د ژوند ژواک د هر اړخ جاج اخستے شوے دے ـ هیله ده چې ددې کتاب لوستل به

تاسو بېخي تنګېدو ته پرې نۀ ږدي ـ بلکې بيا
بيا لوستو ته به مو وهڅوي ـ ''11

''د صوابۍ د ثقافت هنداره'' کتاب چې کله به هم ما لوستل شروع کړل نو ماته به دا احساس په زړۀ کښې کېدو چې زۀ په خپل کلي اولس کښې ګرځم راګرځم ـ ډاکټر بشرٰی خاتون چې څۀ هم ليکل کړي دي هغه زما د سترګو وړاندې تېر شوي دي ـ د ډاکټر بشرٰی خاتون لهجه او فکر د يو تحقيقي مکتب فکر سره تعلق لري ـ ساده او اسان الفاظ استعمال کښې راوستي دي ـ

'' خبره د سيالې بشرٰی خاتون د يوسفزی لهجې
او روزمرې پورې وه او زما فکر بل خوا لاړو
ـــــــــــــ که انصاف اوشي نو د فاضلې
ډاکټر بشرٰی خاتون کتاب ډېر مؤثر ، معلوماتي
او دلچسپ دے ـ ژبه ئې صفا ده لکه چې يو
کهنه مشق ليکوال شخصيت ليکلې وي ـ''12

فېصل فاران چې د خدائي خدمتګار تحريک پېروکار او پښتو اکېډيمي کښې د پي ايچ ډي سکالر دے هغه ددې کتاب په ژبه او اسلوب خپله وېنا قلمبند کړې ده ـ

'' ددې کتاب يوه لويه خوبي دا ده چې ددې
اسلوب دومره روان دوان او ښائسته دے چې په
دې ځانله څېړنکاره د ستائينې او ډاډګيرنې
وړ ګرځي ـ دا داسې اسلوب دے لکه چې ددې نه
وړاندې ددې ليکوال لس کتابونه ليکلي وي او
ښۀ مشق ئې په ليکنو کښې شوے وي ـ چرته بې
ځايه لفاظي ، ستونځمن لغات ، اردوئيت غلبه
، علمي ښودنه مونږ نه محسوسوؤ چې دا ښائي
چې ددې اسلوب شاته د ليکونکي شخصيت د څۀ
ابهام يا پيچيدګي سره وړاندې نۀ دے13 ـ ''

د بشرٰی خاتون مقاله چې د صوابۍ د تاريخ او ثقافت په حواله ډېر مهم کار دے او د صوابۍ نه علاوه ددې خاورې او خطې د تهذيب او تمدن د يو لوے تاريخ نه پکښې پرده پورته شوې ده او د ګنداهارا ثقافت دنيا ته پرانستې شوے دے ـ

د Archealogy په لړ کښې په کښې هم تفصيلات موجود دي ـ په دغه لړ کښې د پېښور يونيورسټۍ د Archealogy Department پخواني ډائرېکټر پروفېسر ډاکټر نسيم خان ليکي ـ

'' د بشرٰی خاتون دا کار نۀ صرف د پوهانو
دپاره يوه اهمه کارنامه ده بلکې د پښتون او
د پښتو ژبې خدمت هم دے چې ډېر د ستاينې وړ
دے ـ زۀ بشرٰی خاتون ته په دې دومره بشپړ او
ناوياته کار مبارکي ورکوم او د نور تحقيق
او خدمت دعاګانې ورته کوم[14]ـ''

محترمې ډاکټر بشرٰی خاتون د خپل علمي پوهې او سپېڅلې ژبې په تعاون د صوابۍ ثقافت او کلچر هم د خپلې مقالې په ذريعه خلقو ته په ګوته کړے دے ـ

د پروفېسر ډاکټر عبدالوحيد تعلق هم د صوابۍ پاکې خاورې سره دے ـ چونکې هغه د هغه ځاے نه واقف دے نو د ډاکټر بشرٰی خاتو دې محنت او کاوش ته ئې داد ورکړے دے ـ

'' په دې تحقيقي مقاله کښې د صوابۍ تاريخ د هغې د غرونو، سيندونو، خوړونو، کلو باندو، ډهيرو، مقبرو، زړو اثارو ، دودونو دستورونو، سندرو ، لوبو او ننداړو وغېره تاريخي څېړنه شوې ده ـ

> که يو طرف ته ئې ټوله پښتونخوا او ټول ملک د صوابۍ د تاريخي حېثيت نه خبر کړے دے او د صوابۍ شمله ئې په پښتنو قامونو کښې د ټولو اوچته په تاريخي طور ثابته کړې ده ـ خداے دې ډاکټر بشرٰی خاتون له نور همت ورکړي ـ امين[15] ـ''

ډاکټر بشرٰی خاتون په خپل چاپ شوي کتاب ''پانيني'' کښې د پښتو ادب د ګرائمر سره تړلې موضوعات ډېر په اسانه او خوندناکه انداز رامخې ته کړي دي ـ

پروفېسر ډاکټر نصرﷲ جان وزير د بشرٰی خاتون د ستائنې په لړ کښې ډېر په موزون انداز خپل الفاظ شئير کړي دي ـ

> '' ډاکټر بشرٰی د اوس مهال له ليکوالو څخه هغه تکړه او کار پوهه محققه ده چې په ډېر لږ وخت کښې ئې د فولکلور او د ژبپوهنې په ځانګه کښې ځانته يو ستر مقام پېدا کړے لکه د مخه مو اووئيل چې پښتو کښې په دې موضوع کوم خاص کار نۀ وۀ شوے ځکه دې دوه کاله وړاندې د خپل ذوق سره سم دغه موضوع ځان ته غوره کړې وه او کار ئې پرې کولو ـ که څۀ هم ددې ذاتي مصروفيات او کورنۍ ذمه واريانې بېخي زياتې دي خو ددې باوجود بيا هم دې مشکل کار ته هغې وخت ايستلے ـ بل لوري ته که ددې موضوع د موادو لټون ته ځير شو نو په دا وخت ناوخت کله يو ځاے کله بل ځاے يواځې په موادو پسې ګرځېده ـ تر دې چې ځينې کتابونه ئې د لاهور نه او ځينې ئې د يو چا په ذريعه له هندوستان څخه راغوښتي وو ـ دا ددې همت وۀ چې د دومره مسائلو باوجود ئې دغه کار په خپل وخت سرته اورسولو[16] ـ''

د ''پانيني'' نه د نثر يوه نمونه وړاندې پېش کوؤ ـ

'' پانيني اولنے ګرائمر پوهـ وۀ چې د

مارفيم تصور ئې پېش کړو ـ پانيني د سنسکرت ژبې به صرف باندې تفصيلي خبره کړې ده ـ هغه د سنسکرت ژبې جوړښت ښهٔ په تفصيل سره په واضحه ډول بيان کړے دے ـ مارفيم د معنې په لحاظ د يوې ژبې د وړې نه وړې اکائي ته وئيلے شي او د ژبپوهنې په جديدو څېړنو کښې مونږ مارفيم او فونيم مطالعه کوو ولې د مارفيم او فونيم تصور تصور پانيني هغه وخت ورکړے دے- د دې نه دا اندازه لګي چې د هغهٔ نظر څومره عميق او مشاهده څومره ژوره او تجزياتي وه-

"Panini gives the idea of an abstract basic form which is known today as morpheme, which by rules of change is converted into actual words. There are rules regarding changes which occur in words at levels of phonology and morphology which are called morphophonemic changes."

ترجمه:- "پانيني د تجريدي بنيادي اکائي تصور پيش کړو چې نن سبا په مارفيم پيژندے شي چې د بدلون د قواعدو مطابق په اصلي لفظونو کښې بدلولے شي- دا د بدلون په حقله هغه قواعد دي چې په لفظ کښې د ننه په صوتياتي او صرفي سطح باندې واقع کېږي او دې ته صرفي صوتياتي بدلون وئيلے شي[17]ـ''

(٤) ډاکټر مس لعل بها :-

چې په صوابۍ کښې د زنانو د ليک لوست خبره راشي او د ډاکټر مس لعل بها تذکره اونشي نو دغه بحث به نيمګړے وي ـ دا محترمه د صوابۍ وړومبۍ زنانه پي ايچ ډي ده چې په کال ١٩٦٨ء کښې د لندن يونيورسټۍ نه دغه اعلیٰ سند ترلاسه کړے دے ـ

''د صوابۍ د تورډهيري کلي د شېر علي خان لور ډاکټر مس لعل بها د اګست د مياشتې په وړومبۍ نېټه کال ١٩٣٦ء کښې سترګې غړولي دي[18] ـ د خپلې علمي و تعليمي کورنۍ له وجې دوي د تعليم سلسله جاري اوساتله ـ په کال ١٩٥٦ء کښې لسم، ١٩٦٠ء کښې څوارلسم او ١٩٦٦ء کښې شپاړسم پاس کړو ـ په ملازمت کښې د Associate عهدې پورې رسېدلې وه ـ په کال ١٩٦٧ء کښې د عربي ژبې کورس کړے وهٔ او په انګرېزي کښې دا کتابونه چاپ دي ـ

NWFP Adminisration under the British Rule (1901 – 1919)

ددې نه علاوه ډاکټر مس لعل بها په اردو ، پښتو او انګرېزي ژبه کښې ليکل کړي دي چې په مختلفو اخبارونو

، رسالو کښې شائع شوي دي ـ
ډاکټر جهان د دوي په حقله ليکل کړي دي ـ

'' د موادو په لحاظ ئې مقالې هم ډېرې خوندورې دي ـ د پښتنو د تاريخ مطالعه ئې هم ډېره کړې ده او هم دغه د خپلې مطالعې په زور ئې ليک ډېر اثر لري ـ ''ستر خوشحال'' او ''د اسلاميه کالج پېښور تاريخ''[19] ـ

(۵) سيده قانته بېگم :-

د کاکاخېلو دا محترمه ليکواله سيده قانته بېگم د ميا وسيع الدين کاکاخېل لور ده چې د صوابۍ په سرډهيري نومې کلي کښې په کال ۱۹۰۸ء پېدا شوې ده ـ د پلار د ملازمت په وجه ئې ابتدائي تعليم په پېښور کښې حاصل کړے دے ـ د وړوکوالي نه د دوي د ادب سره مينه وه او وخت په وخت ئې مضامين ليکلي چې په بېلا بېلو رسالو کښې شائع کېدل ـ

کلثوم زېب ددې په حقله ليکي چې :

'' په ۱۹۷۶ء کښې ''ما سفرنامه'' په نوم خپله سفرنامه چاپ کړې ده چې په هغې کښې د يورپي ممالک او ايشياء ممالک د خپل سفر تذکره کړې ده ـ د سيده قانته بېگم د ليک انداز او ژبه ډېره خوږه او اسانه ده ـ هغې د خپلې شاعرۍ د ليک په ذريعه د اخلاق ، د خوشحالۍ او غم د صبر و شکر او د الله تعالىٰ سره د مينې و محبت د اظهار ډېره غوره نمونه ده ـ

که کښېنم او که پاڅم او که گرځم
ستا تسبيح مې په زبان ليل و نهار دي
تهٔ ستار ئې هم غفار ئې هم قهار ئې
د خپل قهر و غضب نه تل امان را[20]

ډاکټر شاه جهان په خپل ايم فل مقاله کښې د سيده قانته بېگم په حقله ليکي :

'' سيده قانته بېگم اردو او پښتو دواړو ژبو کښې ليکل کوي ـ ټول ليک ئې ډېر معياري دے ـ دوي په پښتو ادب کښې د نوي روح پوک وهلو په غرض خپل ټول صلاحيتونه پکار راوستي دي ـ د ژوند لويه برخه ئې د پښتو ادب په خدمت کښې تېره شوه ـ په زنانه ليکوالو کښې د ځلنده حېثيت مېرمنه ده ـ د ليک انداز ئې روان ،

ساده او اصلاحي دے[21]۔''

د سيده قانته بېګم شمار په پښتو ادب د نثر و نظم ليک ته بې شماره خپل ادبي لک وربخښلے دے ۔ ځکه ورته په پښتو ادب کښې ډېر په ګران قدر نظر باندې کتلے شي ۔

**(٦) سيده ثروت جهان (کوکب ) :-**

د صوابۍ کلي سرډهيري دا زنانه ليکواله هم په نسب کاکاخېله ده او د ستر ليکوال ميا خېرالحق ګوهر لور ده چې په کال ۱۹۵۳ء کښې پېدا شوې ده ۔ دې محترمې په کال ۱۹۶۹ء کښې لسم پاس کړے دے بيا ئې د مردان د جينکو د کالج نه دولسم او څوارلسم په کال ۱۹۷۱ء او ۱۹۷۳ء کښې پاس کړي دي ۔ په ۱۹۷۷ء کښې د پبلک سروس کمېشن له طرفه افسره منتخب شوه ۔

سيده ثروت بېګم د نثر ليک سره سره د نظم ليک کښې هم ماهره وه خو زياتر ليک ئې مونږه ته د افسانو په شکل کښې مخې ته راځي ۔ په ۱۹۸۰ء کښې ورته د انتظامي امورو دپاره صدارتي ايوارډ هم ورکړے شوے دے ۔ ۲۸ ـــ ۱۹۸۱ء دپاره د تعليم و تحقيق د ادارې د مېګزين تعليم و تحقيق ايډيټره هم پاتې شوې ده[22] ۔

د سيده ثروت جهان افسانې يو د اعلیٰ قسمه معياري افسانې بللې شي ۔ پرېشان خټک صېب د ثروت جهان د افسانو په حقله خپله رائے لري :

> '' ما د ثروت جهان کوکب افسانې ټکي په ټکي اولوستې او لکه څنګه چې هغې پخپله ليکلي دي چې ځنې داسې افسانې چې معياري نۀ دي خو د هغې د وړوکوالي ليکلي شوي يادونه دي ځکه ورته خوږې دي او د ريکارډ نه ئې ويستل نه غواړي ۔ خدائے کړے خېر وي ۔ دا جينۍ به يوه ورځ د نورو نامتو افسانه ليکونکو په شان نوم او مقام پېدا کړي نو د هغې دغه افسانې به د نورو خلقو سره سره پخپله هغې ته هم د ارتقاء د بنيادي قدم په حېثيت يادېږي او نورې ليکوالې به هم د دوي په رنګ افسانو نه شروع کوي او په نظر کښې به ئې ددې حاصل کړے مقام وي[23]۔''

هم دغه رنګه د پښتو ادب يوه بله قابل احترام ليکوالې سيده قانته بېګم هم د ثروت جهان د ليکلو انداز او معيار ئې په خپلو الفاظو کښې ډېر په ښکلي انداز ستائيلے دے هغه ليکي :

> '' د سيده ثروت جهان افسانې ما په غور اولوستې ۔ ډېرې اصلاحي او د پاکيزه خيالاتو دي ۔ هره افسانه کښې د قام خصوصاً د ښځو جهالت په ګوته کړے دے ۔ واقعي چې زمونږ په

معاشره کښې څۀ څۀ نه کېږي ـ وړومبی قيصه ''وئ زما قيصه'' ډېره دردناکه ده ـ افسوس چې کله بدقسمتی نه ډېره پورې د بنده ملګرتيا نۀ پرېږدي لکه حميد غريب بيا ئې زيات زور د وطن په قربانو دے چې ځاني مالي هېڅ قسم قربانو نه مخ اړول نۀ دي پکار ـ بلکې هر حالت کښې د وطن په نوم هر قسم له قربانو ته تيارېدل پکار دي[24]ـ''

کلثوم زيب د سيده ثروت جهان په باره ليکي :

'' وئ زما قسمته په نوم وړومبی افسانه اوليکله چې په کال ۱۹٦۷ء کښې د کوئټه په اولس مجله کښې چاپ شوه ـ دا سلسلهئې روانه اوساتله او په کال ۱۹۷۵ء کښې د افسانو وړومبی مجموعه '' د لالا ګل'' په نوم چاپ شوه ـ نظم کله کله او نثر ئې اکثر ليکلے دے ـ

'' راته اووايه تۀ څوک ئې
چې زما په زړۀ کښې اوسې
جوړ اسمان ئې
چې اوچت په مونږ ولاړ ئې
د وسعت ئې اندازه لګول ګران دي
نه خطا شوم[25]

سيده ثروت جهان ''د لالا ګل '' په ضمن کښې دخپلو احساساتو ترجماني څۀ په داسې رنګ کوي ـ

'' زما په افسانو کښې تاسو شايد چې يوه خبره نوټ کړې وي ځکه چې زۀ ئې پخپله هم محسوسوم او د هغه ده د کلي ماحول او ساده ژوند ، ما ددې نه د راوتو ډېر کوشش اوکړو خو هر کله چې مې داسې کړي دي نو داسې راته ښکاره شوې ده لکه چې څوک د بل چا جامې واغوندي ـ خدائے خبر چې ولې ؟ شهيد ، د شهيد مور ، پېزوان او د وطن مينه د خاص جذباتي ورځو يادګارونه دي ـ اجيانړی ابی ، ښاپېری بي بي ، طوطي بابا ، ګيدړسنګي او د پښتو پوزه د لږ ډېر تريم سره رښتوني واقعات يا ژوندي شخصتونه دي ـ د لالا ګل ، وي زما قسمته ، کاش که هغه زۀ وې او خوش قسمته څوک ، زمونږ د روزمره ژوند سره تعلق لري[26]ـ''

د سيده ثروت جهان کوکب د کتاب '' د لاله ګل'' د نثر يوه نمونه مونږه وړاندې کوو ـ

'' که مزکه اسمان يو ځاے شو نمر د قبلې د ډډې را اوخته او که د اور نه اوبۀ جوړې شوې

نو قیامت به راشي خو شپه په شپه چې د شبنم نه شغله جوړه شوه نو هېڅ هم اونهٔ شو ـ د شپې څادر خپله سینه څیرې کړه ـ د سحر رڼائي خوره شوه ټول ملک رڼا رڼا شو خو زما په ژوند توري تیرې راخورې شوې که قیامت راغےنو څهٔ؟ زما په زړهٔ تېر شو او ستي پټي ئې کړم[27]ــ''

(۷) سیده فاضلا شهلا :-

د کاکاخېلو دا لیکواله د میا خېرالحق ګوهر لور او د سیده ثروت جهان کوکب کشره خور ده ـ چې په صوابی توردهیري کښې په کال ۱۹۶۶ء کښې پېدا شوې ده ـ دوي ته په خپل کور کښې د پلار او خور له خوا یو ادبي ماحول په لاس ورغلے وهٔ ـ نو ځکه ئې د پینځو کالو په عمر کښې په اردو ژبه کښې قیصه لیکلې وه ـ دغه قیصه چې کله د ماشومانو په رساله کښې شائع شوه نو د لوستونکو له خوا ئې ستائینه اوشوه چې ددې ماشومې د لیک لوست دپاره یوه لویه حوصله افزائي وه ـ ورستو بیا دوي په اردو او پښتو کښې منظوم او منثور خدمات ترسره کړل ـ

شاه جهان صېب د سیده فاضلا شهلا د ذهانت او لیک داد څهٔ په داسې رنګ کوي ـ

''سیده فاضلا شهلا چې د پښتو افسانې په ذریعه د پښتو ادب کوم خدمت کړے دے او په پښتنه معاشره کښې ئې د ښځو په مشکلاتو په کوم انداز کښې قلم پورته کړے دے ـ د هغې په وجه په پښتنو لیکوالو خوېندو کښې ډېر اهم مقال لري ـ
د دوي د لیک نمونه څهٔ دا رنګ ده ـ
چاند وري ، ګلونه او ازغي ، او د نظم په شکل کښې ئې دوه بازان په پښتو کښې دي[28]ــ''

سید فاضلا شهلا د افسانه ، ناول او نظم نه علاوه ډرامه هم لیکلې ده ـ په دې لړ کښې کلثوم زیب لیکي :

'' یوه ډرامه ئې لیکلې ده چې په رېډیو د خوېندو په پروګرام کښې نشر شوې ده ـ څهٔ افسانې ئې جمهور اسلام کښې چاپ دي او څهٔ اولس کوئټې ته رالېږلي دي ـ اباسین چې کله د پېښور نه شروع شو نو دوي خپله افسانه ''زنځیرونه'' چاپ ته اولېږله ـ د دودي چاپ دپاره لېږلې افسانې به اکثر ډېې ته کړې شوې ـ ددې له کبله د شهلا زړهٔ مات شو او بیا ئې لیک په اردو ژبه کښې شروع کړو[29]ــ''

Pukhtunkhwa Journal

# حوالي

[1] کلثوم زېب ، پښتني ملغلرې ، منګل کتاب کور محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء ، مخونه ۱۴۲، ۱۴۳

[2] شاه جهان ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، ندیم یونس پرنټرز لاهو ۱۹۹۳ء ، مخونه ۴۱۱، ۴۱۲

[3] پلوشه یوسفزی ، دردونه ټکورونه ، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور ، جون ۲۰۰۳ء، مخونه ۹،۱۰

[4] کلثوم زېب ، پښتني ملغلرې ، مخ ۲۵۱

[5] پلوشه یوسفزی ، دردونه ټکورونه ، مخ ۷۹

[6] ډاکټر بشرٰی خاتون سره مرکه ، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون ، ۱۶نومبر ۲۰۲۳ء

[7] ډاکټر بشرٰی خاتون ، د صوابی تاریخ ، عامر پرنټ اینډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱۵، مخ ۱

[8] همدغه اثر، مخ ۱۷

[9] همدغه اثر ، مخ ۱۸

[10] همدغه اثر ، مخ ۲۰

[11] ډاکټر بشرٰی خاتون ، د صوابی د ثقافت هنداره ، دي پرنټ مېن پرنټرز اینډ پبلشرز پېښور ، چاپ مرسته : محکمه ثقافت خېبر پښتونخوا ، ۲۰۱۶ء ، مخ ۲۵

[12] همدغه اثر ، مخ ۱۹

[13] ډاکټر بشرٰی خاتون ، د صوابی تاریخ ، مخ ۳۴

[14] همدغه اثر ، مخ ۲۴

[15] ډاکټر بشرٰی خاتون ، د صوابی د ثقافت هنداره ، مخونه ۲۱ ، ۲۲

[16] ډاکټر بشرٰی خاتون ، پانیني ، فاسټ ټریک کمیونیکیشن پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۷۸

[17] همدغه اثر ، مخونه ۵۷ ، ۵۸

[18] کلثوم زېب ، پښتني ملغلرې ، مخ ۷۴

[19] شاه جهان ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخ ۲۳۴

[20] کلثوم زېب ، پښتني ملغلرې ، مخ ۵۹

[21] شاه جهان ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخ ۱۸۲

[22] همدغه اثر ، مخ ۳۶۵

[23] سیده ثروت جهان کوکب ، د لاله ګل ، ۱۹۷۵ء ، مخ ۵۸

[24] همدغه اثر ، مخونه ۱۱ ، ۱۲

[25] کلثوم زېب ، پښتني ملغلرې ، مخ ۱۱۶

[26] سیده ثروت جهان کوکب ، د لاله ګل ، مخ ۱۷

[27] همدغه اثر ، مخ ۱۰۰

[28] شاه جهان ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخونه ۲۹۱ تا ۲۹۴

[29] کلثوم زېب ، پښتني ملغلرې ، مخ ۸۹